# په افغانستان کې جګړه څنګه پای ته ورسوو؟

لیکوال: ډیوید میلبنډ (دبریتانیا د بهرنیو ارو وزیر)
ژباړن: رحیم الله بشارت

په افغانستان کې جګړه نه بریتانیا پیل کړې نه امریکې په ۱۹۹۰لسیزه کې ددې هېواد دطالبانو دولت القایده ته د اوسېدو لپاره یو محفوظ جنت او ملاتړ ورکړ. په بدل کې یې اوسامه بن لادن طالبانو ته پیسې او جنګیالي تیارکړل. افغانستان دسپتمبر دیولسمې دبریدونو دپیداینت په ځای بدل شو. ددې بریدونو په ځواب کې نړیوالې مداخلې په نړیواله کچه ډېر پوره ملاتړ درلود. خو ددې مانا دا نه ده چې زمونږ پوځونه به دتل لپاره دلته وي. اته کاله وروسته، مونږ اړیو چې ددې پلان جوړ کړو چې څنګه به دا پای ته رسېږي ــ څنګه به هغه ځه ساتوچې ترلاسه کړ ي مودي او څنګه به جنوبي اسیا له هغه ناوړه نفوذ نه ژغورو، چې مونږ ټول ښاغېزمن کړي.

دپرمختګ لار د لانجې د سولې او جګړې دسیاست دمرکزیت په پېژندو پورې اړه لري دمرګونواو ټول وژنو سره مل کوم خطرناک تېری (تشدد)چې دې جګړې پیل کړی دی ، سیاست به یې پای ته رسوي د افغانستان لپاره یوسیاسي جوړښت باید دوه اړخونه (بعدونه) ولري. لومړی، ې نوی او ښه پراخ دننني (داخلي) برابری (جوړښت) په کوم کې چې پوره افغانان برخه ولري، او مرکزي دولت دومره ځواک او قانونیت ولري چې هېواد له داخلي او بهرنیو ګواښونو وساتي او دویم، په کوم چې لومړنی هم منحصر دی، او هغه داچې یونوی بهرنی جوړښت چې ګاونډیان دې ته ژمن کړي چې د افغانستان د ازادی او ځمکنی بشپړتیا درناوی وکړي. او دومره ځواک او ملاتړ هم ولري چې ددې داډ ترلاسه شي چې دوی به خپله ژمنه ولاړ پاتې کېږي.

بریتانیا د ۱۸۳۹ او ۱۹۱۹ترمنځ په افغانستان کې درې ځله جنګېدلې ده. هرځل دا جنګونو په بریتانوي هندکې دبریتانیا د ځواک په مرکزــ او اقتصادي ګټوپورې تړلي وو. هر ځل دوی غوښتل چې دلته خپل واک ټینګ کړي خو له دې ځای نه دپوځونو په شاکولو ته اړویستل شول. هرځل دا ویستل له دېرو وینو توپیدو سره مل و، چې [illegible] دبریتانیا دشاهي کورني ستراتیژیستان [illegible] شول چې [illegible] ځان په اړه کې وساتي ــ یو معقول او اوږد مهالي فکر [illegible] خپل [illegible] خو په مرستو متکي افغانستان،چې د قبیلو ترمنځ انډول یې برابروي او د بریتانوي هند امنیت ته ګواښ پېښ نه کړي.

Ketabton.com

دپخواني شوروي اتحادستراتیژي جوړوونکي هم ، همدې ته یوه ورته پایلې ته ورسېدل، کله چې په ۱۹۸۹ کې شوروي پوځونه له افغانستان ، ځخه ووتل، او دکمیونست محمد نجیب الله حکومت یې ترشاپرېښود، چې تر درې کلونو ژوندی پاتې شو او بیا له منځه لاړــ دکرملین دنصیحت الفاظ چې، کمیونیزم هېرول، سوشلیزم پرېښودل، اسلام ته غېږ خلاصول او له قبیلوسره کارکول ،، د نوي تاریخ د هر رژیم په ځېر د نجیب الله رژیم هم له بهرنیومرستو پرته ونه پایېده او هغه وخت را وپرزېده چې د بورس یلتسن نوې ازادې شوې روسیې پرکابل ټولې مرستې ودرولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۱۹مه پېړۍ کې د بریتانیاتجربه او په شلمه کې د شوروي اتحاد هغه ښيي چې د افغانستان دباثباته کولو ښه لاره، او کېدای شي یواځینۍ لاره داده چې پخپله افغانان قوي کړل شي چې بیاخپل په خپلو کلیو او درو باندې واکمن هم واوسي او امنیت هم راولي. ددې د ترلاسه کولو لپاره افغانان له بهر نه پوره سیاسي او پوځي ملاتړ سخاوت مندانه اقتصادي مرستو ته اړتیالري. خو افغانان به په خپله خاوره کې زمونږ مجادلوي پوځونوته له اړتیا، د امنیت د ډاډ ددوی د خپل واک له پراخولو په لاره کې له مرستې پرته ،نه اړتیاولري او نه به هرکلی ووایي.

په ۱۸۴۲کې له کابل نه د بریتانوي پوځونو د خوني وتلو په هکله یو تازه مطالعه ښيي چې لامل یې ددې پوځونو د تیټ پوړو چاروا‌کیولخوا خپلو جګپوړو هغو ته دهغه بد حالت دحقیقت ویلو کې زړه نازړه توب و ،چې بریتانوي پوځونه ورسره مخامخ وو. زه هم دهغو ډیپلوماټانو او دمیدان د قومندانانو سره له خپلو خبرو نه پوهېږم چې هغه «خوږې خبرې» نورې دنن خبرې نه دي. داځېره چې افغانستان سمې لارې ته روان دی هغه ربښتیادي چې له ځمکې لاندې شوي دي. دلته نور داسې حقیقتونه شته چې زه یې وینم:

• افغانان له دېرشوکلونو جګړو ستړي کړي دي، دوی جګړو، د بنسټیزو حقونو او شونتیاوو نشتوالي اغېزمن کړي دي. اکثریت یې دطالبانو له ظلمونو او تېرې کرکه لري. خوبیاهم کله دوی هغوی ته له ظالمانو جنګسالارانو او قانون ماتوونکو نه د دوی دساتونکو په ډول ګوري

• افغان دولت چې حامدکرزی یې مشري کوي، دخپلو خلکو دغوښتنو، ځواکمنو جنایتکارانو او د اقتصادي ګټو د ځان کوونکو ، او نړیوالې ټولنې له مخالفتونو او فشارونوسره مخ دی. خو په ده کې د حکومت کولو وړتیاکمه ده. دده په اړه اندېښنې له تېرو ټاکنو راپه دې خواژورې شوي دي کومې چې له پراخو درغلیو او د رشوت له تورونوسره ملګرې وې. دا اندېښنې د سیاسي نظام دجوړښت له پلوه هم دي.

• افغان بغاوت پراخ ، خو دملګرتیا او اړیکو، جغرافیوي مرکزونو او تکتیکونو له پلوه کمزوری دی. طالبان د طالبانو دتېررژیم دمشرانو لخوارهبري کېږي چې مشري یې ملاعمر کوي او د پاکستان په سرحدي سیموکې مرکز لري. دحقاني نیټ ورک او حزب اسلامي په ګډون ځینې نورې ډلې ورې ډلې هم په عملیاتوکې برخه لري. دا ټولې ډلې دخلکو په نه باور او دولت په کمزورۍ پایي.

• له طالبانو اوس هم کرکه کېږي ـــ یوه نوې نظرپوښتنه ښيي چې یواځې ۶سلنه افغانان د دوی د واک بېرته راتګ غواړي. خو اوس دوی داسې وړې جنګې ډلې منظمې کړې دي چې په جنوب ، ختیځ او شمال کې له محدود ملاتړ نه خوند اخلي، او ددې وړتیالري چې دکابل په ګډون هرچېرته عملیات ترسره کړي.

• د القایدې هغه مشران چې له افغانستان ، نه تښتېدلي دي دپاکستان په قبایلي سیموکې پټېږي د دې مشرانو یوه لویه برخه وژل شوي یانیول شوي دي. سره له دې چې القایده له طالبانو سره د اړیکو اوږد تاریخ لري خو ددوی ملګرتیا تر ډېره بریده تکتیکي او سیمه ییزه ده. تراوسه القایده ددې وړتیا(کپیسیټي) لري ـــ په نورو هېوادونو لکه یمن کې دخپلو ملګرو او شریکبانوپه مرسته ـــ په نړۍ کې مرګاني بریدونه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

• په تېرو اتلس میاشتوکې په پاکستان کې د اصف علي زرداري د دیموکراټیک حکومت په راتګ سره ځه بدلونونه راغلي دي. حقیقت دادی چې سیمه ییز تروریزم پوځي او وسیاسي مشرانو له یوه نوي هدف سره مخ کړي دي او ددوی په خلاف یې سره موافق کړي دي ، دا خبره اوس ریالیستیکه ده چې د پولې په دواړو خواوو کې پر وسله والو دفشار پر غورځولو باندې کار وشي.

په وروستیو اته کلونو کې افغانه او نړیواله ستراتیژي په دې باندې متمرکزه وه چې د دولت لویې دندې سمې او د افغانانو په ژوند کې مثبت بدلون راولي. که څه هم دا لاره له خنډونو او ځنډونو ډکه خوبیاهم ځینې لاسته راوړنې شته. دپنځه میلونه مهاجروبېرته سنبډنه، کېدای شي په خپل حفاظت ، امنیت اوپرمونږ باندې چې دوی ته مو ساتلي دي،د باور دزیاتېدو ترټولو لویه نښه وي نظر پوښتنې ښیي چې د امنیت نشتوالی اوس هم دخلکو په وړاندې ترټولو لویه ستونزه ده، تېرکال په بریدونوکې له تېرو ټولو کلونو په پرتله زیات خلک وژل شوي دي.

په ۲۰۰۳ کې د افغان ملي اردو شمېر له دوه زره نه کم و. اوس له ۱۰۰،۰۰۰ زیات دی. خو نژادي توازن ــــ اوپه ځانګړي ډول د پښتنوبرخه پکې ــــ کمزورې ده. شمېر به یې دریمه برخه ددې کال ترپایه او نور په را روانو کلونوکې زیات شي. افغان پوځیان اوس دلومړۍ کرښې دمبارزې تجربې ترسره کوي چې ښه بېلګه یې په هلمند ولایت کې اوسني مشترک عملیات و. او ددې لپاره پلانونه جوړېږي چې افغان امنیتي ځواکونه، سیمه ییز حکومتونه او نورې ادارې د اغېزمنتیا یوې مناسبې کچې ته ورسېږي نو افغان پوځ به ــــ ولسوالي په ولسوالي او ولایت په ولایت ــــ د امنیت دمشرۍ دنده په غاړه واخلي. څومره چې افغان پوځ پیاوړي کېږي ، نړیوال ځواکونه به ددې وړ وي چې له عملیاتو نه په شاشي او ځای دوی ته پرېږدي خو بیابه هم دوی ته اړتیاوي چې دخپلو افغانو سیالانو(افغان ملي اردو) د روزنې او لارښوونې چارې د څوکلونو لپاره روانې وساتي.
د پوهنې او روغتیا په هکله، په ۲۰۰۱ کې یواځې یومیلیون افغان ماشومان ښوونځي ته تلل چې هغه هم یواځې هلکان وو. سږکال هیله لروچې یوه میلیونه ماشومان به ښوونځیو ته لاړ شي چې دریمه برخه به نجونې وي. له لسو نه اته افغانان روغتیاساتنې ته لاس رسی لري.

دکوکنارو کو او د نشه ییزو توکیو سوداګري افغانستان ته لویه ستونزه ده. خو په تېرو دوه کلونوکې د تریاکو په حاصل کې لوی کمښت راغلی دی: ٪۱۹ په ۲۰۰۸ کې او ٪۲۲ په ۲۰۰۹کې. د ملګروملتونو دنشه یي توکیو دمخنیوي دفتر وایي چې په ۲۰۱۰ کې به دتریاکو حاصل زیات نشي. په امنیت او حکومتدارۍ کې پرمختګ او ورسره د غنمو لوړ قیمتونه ، ددې پایلو په ترلاسه کولوکې مرسته کړې ده.

دملي پیوستون دپروګرام ــــ چې د محلي او سیمه ییزو حکومتونو د پرمختګ لپاره پیل شوی وــــ لاسته راوړنې به په دې هېواد کې یوه په زړه پورې کیسه وي. له ۲۰۰۳راهیسې د ۲۲،۰۰۰کلي شوراګانې دکلیوالو لخوا د رایو له لارې ټاکل شوې دي. دوی یواځې نږدې ۴۰،۰۰۰پرمختیایي پروژې یې ډیزاین کړي بلکې پلې کړې یې هم دي. او اوس له ښکته نه پورته خواته یانې د ولسوالیوشوراګانو ته راځي.

داسې برخې هم شته چې هلته کوم د یادولو وړ پرمختګ نه دی شوی، مونږ ددې اندېښنو دلرې کولو په لورګامونه اخلو او افغان دولت اړ دی چې په دې هلکه ډېرځه وکړي لکه:

• انصاف ، قانون او نظم راوستنه دجنګ یورښتینې میدان دی. د افغان ملي پولیسو شمېر نږدې ۱۰۰،۰۰۰ تنه دی خو لویه خبره د څومره والي (کمیت)نه ده ، دڅنګه والي (کیفیت) ده. ددې ځواک ځینې برخه د نشه ییزو توکیو په سوداګرۍ بوخت دي. همدارنګه دبړی یې نالوستي دي، دجنایتکارو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاغیانو ملاتړي دي او یا رشوت اخلي. افغان دولت د ریفورم یو پراخ او لرې رسېدونکي پروګرام پیلوي خو دولت اړتیالري ــ البته زمونږ په مرسته ــ چې یو دجنایي او ولسي شخړو د اوارولو لپاره غیررسمي عدالتي جوړښت رامنځته کړي. داټول هغه څه دي چې اکثره وخت یې افغانان دقانون حاکمیت ګڼي.

د ملي پیوستون دپروګرام دبریالیتوب سره،سره ، ولسي اداره له ګړانوهڅو وروسته هم دیوې بېخي لویې ستونزې په ډول په ځای پاتې شوه. د هېواد په لرې پرتو سیمو کې د ولسوالیو په کچه حکومت نشته؛ نیم ولسوالان یو دفتر هم نه لري. له څلورمې برخې کم یې برېښنالري، او ځینې یواځې دمیاشتې شپږ ډالره دلګښت لپاره ترلاسه کوي. د راروانو دوه کلونو لپاره نږیوالې ټولنې ژمنه کړې چې ۱۲،۰۰۰ دولتي کارکوونکي وروزي چې د ولسوالیو په کچه کاروکړي.

• په پای کې داچې، دلته د فساد ستونزه ده. په جنوري کې د بي بي سي، ای بي سي، او ای ارډي له خوا دترسره شوې یوې نظرپوښتنې له مخې ٪۹۵افغانان فساد ته د هغوی دسیمې دیوې لویې ستونزې په سترګه ګوري. په ځینو سیمو کې په منځني ډول هرافغان په کال کې ۱۰۰ډالره دولتي چارواکیو ته د رشوت په توګه ورکوي. نو دومره پراخ خپور فساد ژورې ریښې لري. ولس مشر کرزي ژمنه کړې چې د فساد مخه ونیسي او داسې ازادې اداري رامنځته کړي چې داستونزه وڅاري او مخه یې ونیسي. نړیواله ټولنه به د هغه په عمل قضاوت کوي ، نه دهغه په خبرو. مرسته ورکوونکي به هغه ته د دولت له لارې دمرستو دلګولو شونتیاوې له ډېروازموېلو وروسته دهغه په لاس ورکوي. دبېلګې په ډول د وزیرانو او نورو لوړپوړیوچارواکو دشتمنیو د ښکاره کول او ثبتول، د لوړپوړیوچارواکیو د ټاکلوپه برخه کې دنوې کړنلارې رامنځته کول، او د فساد د له منځه وړلو لپاره د یوه پراخ قانون جوړول.

دتېرو اته کلونو لاسته راوړنې زمونږ دپوځونو د مېړانې او نه ستړې کېدونکو هڅو نه پرته شونې نه وې، له دوی پرته به بغاوت افغان دولت لاندې کړی او کېدای شي په کابل یې واک چلولی وای زمونږ دپرمختګ کارونه به ودرېدلي او له منځه تللي وو، او القایده به ډېره سیمه لاندې کړې وای او د تروریزم بې رحمانه پلانونه به یې جوړولای.

دکارسرداچې دا دواړه لوري ، هم روښانه دي او هم اغېزمن. زیاتیګړي پوځونه ، چې امریکا، بریتانیا او نور یې رالېږي، که پرمختګ وکړي ارزښتمن دي. دبریتانیاژمنتیاپه ترهغې پورې په ځای وي ترڅوچې مونږ خپل شریک هدف ترسره کړو. یو داسې افغانستان چې بیا دنړیوال تروریزم د مرکز په ډول د نړۍ په خلاف ونه کارول شي.

خوبیاهم، د نوو پلانونو د بېخي خوشباوره کتنې نه وروسته هم دې پایلې ته رسېږو چې، افغان چارواکي ترهغو پورې دخپلې خاورې دکرارۍ او منل شوې ادارې وړتیانه لري ترڅو پورې چې بغاوت پخپله کم شوی نه وي. اومونږ به یواځې په هغه حالت کې خپل پوځونه په باور سره وویستی شوچې بېرته راتلو ته مجبور نه یو. زمونږ دپوځونو پراخې هڅې ددې هدف په ترلاسه کولوکې مهم رول لري. څنګه چې جنرال میک کرسټل اوس، اوس ویلي: دپوځ رول ددې هڅه کول دي چې حالت داسې جوړکړي چې خلکوته دا اجازه ورکړي چې د حکومت جوړولو او چارو چلولو یوه ربښتیني حل ته راشي. دا خبره د افغان سیاست لویې ننګونه راپورته کوي. هغه ننګونه چې له ډېرې اوږدې مودې ورسره بې پروایي شوې ده.

په ۲۰۰۱ کې دبون تړون او وروسته پروسه کې دیوه ربښتیني سیاسي توازن کمښت موجود و. شمالي ټلوالي بون ته د افغانستان د نوو بادارانو په ډول راغله، خو دوی د په جنوب کې د پښتون اکثریت په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګډون د افغانستان دلوی نفوس نماینده ګان نه وو. دا سمه وه چې طالبان له بون نه شړل شوي وو. خو نورو قانوني ډلو ته چې دهغو پښتنو نمایندګي یې کوله چې دطالبانو اصلي ځواک و ، هم په کمه سترګه وکتل شول.

له بون کنفرنس وروسته چې کومې دوه جرګې جوړې شوې هغو هم دهېواد لپاره یوه کلک مرکزي سیاسي جوړښت رامنځته کړ. په داسې حال کې چې ددې هېواد خلکو اکثر په محلي کچه دخپلو چارو دسنبالولو او تنظیمولو اوږد تاریخ او خپلې لارې لرلې. له دې نه ورتېرــ دکابل سیاسي جوړښت له هغو قبیلو ، غیررسمي دودونو او ټولنمرکزه جوړښتونو سره انصاف هم ونه کړ. فساد وریسې خبره نوره هم خرابه کړه. د قانون ماتوونکو لاسونو ته د بې حسابه پیسو قبیلوي توازن نور هم لهمنځه وې ووړ. په پای کې په لویدیځ کې ایران ، په ختیځ کې پاکستان، په شمال کې د مرکزي اسیا جمهوریتونه، سیمه ییز قدرتونه لکه هندوستان، چین، سعودي عربستان، روس او ترکیه،بون ترون په دې کې پاتې راغی چې د افغانستان داټول ګاونډیان سره د یوه نوي او سوله ییز افغانستان دجوړېدو لپاره یوځای کړي.

زه چې د افغانستان له تاریخ نه کوم څه زده کوم هغه دادي چې ترهغه مهاله به په افغانستان کې سوله او ثبات رانشي چې ترڅو له ډېرو، ډېر خلک په سیاسي جوړښت کې رایوځای نشي او ترڅوچې یې ګاونډیان له واکمن سیاسي جوړښت سره په تړون کې نه وي.

## سیاسي لاس رسی

اوس له ټولنی سره د طالبوجنګیالیو دبیایوځای کولو لپاره یوه نړیواله موافقه شته، چې ملګري ملتونه یې داسې تعریفوي ,,هغه پروسه چې چې پرمټ یې پخواني جنګیالي ولسي حیثیت خپلوي او دوامداره دنده او ګټه ترلاسه کوي،، ددې پروګرام شاته پروت منطق ساده دی، څومره چې په بغاوت کوونکیو باندې پوځي فشار زیاتېږي ـــ او له هغوی سره دجګړې د اوږدېدو ویره پیداکېږي او بری ورته لاپسې لرې ښکاري ـــ نو هغه کسان چې د بغاوت په څنډه ولاړ دي ، هغوی به په خپله ژمنتیاله سره کتنه وکړي لکه څنګه چې ددې کال په سر کې مونږ داسې بېلګې لیدلي دي.

خود داسې بیاجوړښت دټینګ ساتلو لپاره یواځې د دندو پیداکول بسنه نه کوي بلکې له خپلو پخوانیو متحدینو سره له اړیکو نه ددوی ساتل هم اړین دي. او د ولس مشر کرزي لخوا دسولې ،پخلاینې او بیایوځای کېدنې لپاره د وړاندیزشوې شورا ارزښت هم په دې کې دی، دکومې لپاره چې نړیوالې ټولنې د ۱۵۰ میلیون ډالره ژمنه کړې ده.

خو زه به په دې زور واچوم چې دغه بیایوځای کېدنه به هغه وخت ښه اغېز ولري چې د هغو خلکو ویرې ، اندېښنې او غمونه هم لرې شي چې ولس مشر کرزی یې ,,خپل ناراضي وطندار ګڼي،، دبېلګې په ډول طالبان او نور مخالفین، ددوی دهغو اندېښنو دپېژندلو او ځواب ویلولپاره چې بغاوت ته تېل او انرژي ورکوي که یوه رښتینې هڅه ونشي نو دا به ګرانه وي چې ددوی یو ارزښتمن شمېر په دې قانع کړل شي چې د دولت پرضد دجګړې پرځای ، د دولت لپاره په کارکولوکې د دوی خوښې ګټې ښې خوندي کېدای شي.

ځینې باغیان د القایده متشددې سخت دریځي(افراطي) اجنداته ژمن دي. له دوی سره به هیڅ پخلاینه نه وي ـــ دوی به خامخا ماتېږي. خو ددوی اکثریت داسې نه دی. دوی محافظه کار اسلامي عقاید لري، او له دې سره ترلي دي، خو لوی نظر یې په دې اړه دی چې ټولنیز نظم او قانون باید څنګه وي. ددوی لویه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چيغه د نړيوالو پوځونو شړل دي. خو دوی هم په افغان دولت او سياست قوي بې باوری پارولي (تحريک) کړي دي ـــ دوی دولت د يو بې کفايته او مفسد دولت په سترګه ګوري. دهرچا دا فکر پلی کول به ګران وي چې هغه خلک په سياسي بوختياکې راګډ کړي چې په مستقيمه ياغی‌مستقيمه توګه زمونږ په پوځونو بريدونه کوي، خو مونږ هيڅ حق نه لرو چې دهغو افغانانو پرځای چې د طالبانو د بېرته دنه راستنيدو دعاوې کوي ، پرهغوی خپل فکرونه او ارزښتونه ومنو.خو خبرې اترې (مزاکره) نه تسليت ورکول دي او نه د دښمنو قواوو او سياستمدارانو ترمنځ خبرې‌دي.

افغانان بايد خامخا داسې يو سياسي جوړښت رامنځته کړي ــ که څه هم چې يوه پڅه او پړاويزه پروسه به وي ـــ خو مخالفين به ددې لپاره نړيوال ملاتړ او نړيوال منځګړتوب غواړي ـــ دبېلګې په ډول دملګرو ملتونو نظر او مراقبت په په پای کې ضروري وي. نوبيا ددې اړتياشته‌چې هغه شرطونه چې له خبرو وړاندې ايښودل کېږي بايد روښانه شي. يانې هغه څوک چې دخپل هېواد په سياست کې برخه غواړي بايد له القايده سره اړيکي وشکوي، خپلې وسلوالې هڅې پرېږدي، اود افغان اساسي قانون چوکاټ ومني. نو له دې لارې به بيا ددوی غوښتنې او خوښې وپېژندل شي، يو سياسي غږ به ورکړل شي خو داټول به د ولس د قانون او دنورو اړخونو دخوښو او اړتياوو په نظر کې نيولو سره ترسره کېږي. ولس مشر کرزي د سولې په خپلو تکراري غوښتنوکې دا خبره روښانه کړې ده چې هغه مهال داسې شرطونه د يوه وروستي توافق برخه ګرځېدای شي چې دخبرو د پرمختګ مخه ونه نيسي. د نړيوالو او افغان ځواکونو زياتېدل بايد دهر لوري په فکر کې وي. خبرې اترې د خرپ او ترپ (دجګړې او ياتېښتې)يو بديل راکوي. ديوه داسې سياسي لاس رسي political outreach دپروسې يوې پايلې ته رسول به وخت اخلي اوډېرو هڅو ته به اړتيالري. خو دخبرودپيل د بنسټ ايښودلو وخت همدا اوس دی. چې د افغانو اونړيوالو ځواکونو د پراخ شتون ،نه ګټه واخيستل شي. ولس مشر کرزي د اپريل پر ۲۹ د پراخې مشورې لپاره ـــ دسولې لويه جرګه ـــ رابللې چې ۱۴۰۰ غړي او ميلمانه به پکې ګډون کوي. چې د پارلمان غړي، د ولايتي شوراګانو غړي، واليان، مذهبي او قومي مشران او د مدني ټولنې غړي او د ښځو د ټولنو غړي به پکې رابلل کېږي. دابايدد يوه نوي قومي سياسي جوړښت د جوړولو پيل وي ــ په دې هکله هغه وويل:

ددې موخه دبيايوځای کېدنې او پخلاينې په اړه له افغانانوسره سلامشوره ده ـــ چې چېرته پخلاينه شونې ده او چېرته نه ـــ او چې دخلکو په مشوره دسولې لپاره د عمل يوپلان هم جوړکړل شي.

داچې دغه سياسي جوړښت بايد څنګه وي ؟ يو بهرنی يواځې دا وړانديزونه کولی شي:

لومړی،داسې يوسياسي جوړښت دې رامنځته شي چې هغو قومي او نژادي ګروپونو ته چې دبون له کنفرانس نه شړل شوي وو په سياسي پروسته کې يوه رښتينې ونډه ورکړل شي، چې دسياسي نمايندګۍ لپاره مبارزه او سيالي وکړای شي. يو سوله ييز جوړښت کې بايد فاتح او مفتوح دواړه برخه ولري.

دداسې کولو لپار، ښايي چې نوی سياسي جوړښت داغېز او نظر بېلابېلو ډلو ته يو ﻏږ ورکړي. سياسي دفترونو او دولتي دندو ته د راتګ دروازې ورته خلاصې وي. او ددې هڅه بايد وشي چې د افغان ملي اردو نژادي بيس وغزول شي. دا شيان به افغانان وهڅوي چې دخپلو او خپلو ډلو او ټولنود انديښنو ځواب په عمل اوسيستم کې ووينې. او دابه هغوی ته ددې موکه برابره کړي چې د افغانستان په پرمختګ او ثبات کې برخه واخلي. او له دې لارې به هغه هدف ته ورسيږي چې د ډېرو مخالفتونو کيلي ده ـــ اوهغه دبهرنيوځواکونو وتل دي، چې لومړی به دملاتړ او روزنې رول ته راکوز شي او بيابه پوره ووځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دويم،واليانو او ولسوالانواو ددوی اړوندو شوراګانو ته دې ډېر واک ورکړل شي چې هغوی ازادانه دخپلو خلکو په خوښه پرېکړې وکړي. او نظام هغه ډول وچلوي چې دوی يې غواړي. ددې لپاره په دغو دندو د وړ خلکو ټاکنه بنسټيزه اړتياده ـــ او د عدالت اود قانون د حاکميت دننګونې په نظر کې نيولو سره بايد داهم ووايوچې په دغې کچه دپوليسو مشران، دمحلي محکمو قاضيان او څارنوال هم همداسې مهم دي لکه واليان او ولسوالان. په محلي کچه حکومتي چاروکيو او دهغوی اړوندو شوراګانو ته دا نېغه دنده(واک) هم ورکول پکار دي چې د پرمختګونو څارنه وکړي، شخړې اوارې کړي، امنيت کې برخه او سيمه ييز مخالفين او د هغوی خواخوږي له دولت سره يوځای کړي.

دريم ، د قانون جوړولو يو نوی پړاو بايد پيل شي ـــ ضروري نه ده چې اساسي قانون دې هم بدل شي ـــ دا قانون جوړونه دې د پارلمان او ولس مشر د واکونو په هکله وي، چې په پايله کې يې پارلمان ته په سياسي جوړښت کې يو رښتينې رول ورکړل شي. داسې يو رول ورکول به دوی وهڅوي چې انتقادي و اوسي او په پای کې به د داسې پرمختګونو لارې پرانيزي چې په اوسني افغانستان کې به ښېخي نوي وي داسې به يو ولسواک ،جوړوونکی او هېواد ته وفادار اپوزيشن هم رامنځته شي
څلورم، ددې ټولو ترڅنګ بايد دفساد دله منځه وړلو لپاره غښتلې هڅې خامخا وشيـد ولس کرزي داژمنه ارزښتمنه ده چې دمعافيت کولتور به له منځه وړي، او يو نوی فساد ضد يونټ په جوړوي په دې هم بايدزور واچول شي چې افغان دولت ـــ د نړيوالې ټولنې په مرسته ـــ څنګه کولی شي چې د نشه ييزو توکيو دپراخې سوداګری سره مقابله وکړي. دا د عامو خلکو دهغې اندېښنې تر ژورو رسېږي چې د فساد د ډېروالي او د قانون دحاکميت د کموالي په اړه يې لري. ددې يوه برخه دا يقيني کوي چې نوی سياسي جوړښت به د څارنې ، نګرانی او توازن په بنسټ ولاړ وي ـــ لکه ازادې محکمې ـــ او په رونوالي او مسئوليت باندې دټينګارچې وښيي په دولت دخلکو بادار او اقا نه دی بلکې په هره کچه او هره بنه د افغانانويو رښتينی خدمتګار دی.

## بهرنی سياسي جوړښت

د هيڅ هېواد اويا لږ ترلږه د افغانستان سياست له نورو نه جلا نشي پايېدلی له اوږدې مودې راهيسې افغانستان د بهرنيو مداخلو او لاس وهنو قرباني شوی دی. نن پکې دسيمې ګټې تعقيبېږي او خپله يې قومونه او نژادي ګروپونه ـــ په جنوب ، ختيځ او شمال کې ـــ ګرځي چې له سرحدونو پورې کوم پناځای پيداکړي. څوک چې ددولت مخالفت کوي تراوسه له بهر نه مرستې ،ملاتړ او تحفظ ترلاسه کوي که افغانستان ديو سوله ييز او نېکمرغه هېواد په ډول رامنځته کول وي نو ددې کلکه اړتياشته چې نه يوازې يونوی داخلي سياسي جوړښت رامنځته کړل شي بلکې يو نوی بهرنی سياسي جوړښت هم منځته راشي.

جيوپولټيکي ننګونو ته يو نوی توازن ورکړل شي ـــ د پاکستان او هندوستان د اوږدمهاله تشنج په ګډون او د ايران شتوالي ته ـــ دا داسې ښکاري چې افغانستان له خپله بده قسمته د خپلو دښمنو ګاونډيانود قدرت غوښتنې د لوبو قرباني کېږي. ددې حالت منطق دادی چې افغانستان ترهغه وخته پورې سوله نشي ترلاسه کولی ترڅو پورې چې ددې سيمې دهېوادونونه ايلېدونکې ستونزې نه وي اوارې شوې. خو دلته نور بديلونه او په پای کې هيله ټوکوونکې شونتياوې شته چې پرمټ يې افغانستان د ډېرو ګټور سيمه ييزو همکاريو او اړيکو کور ګرځېدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی قدم ، د افغانستان دګاونډیو او سیمه ییزو قدرتونو لخوا ددوه ساده حقیقتونو ادراک دی. لومړی حقیقت: هیڅ یو سیمه قدرت او ورسره نړیواله ټولنه به افغانستان دې ته پرې نږدي چې د کوم ګاونډي ترتسلط لاندې راشي. دویم حقیقت: د افغانستان اوسنی حالت ټولو ته زیان اړوونکی دی، جرمونه ، نشه يي توکي، تروریزم او له پولې نورو غاړو ته د مهاجرو خورېدل، په داسې حال کې چېد افغانستان د منرالونو شتمني او زراعتي ځمکې په سیمه کې دټولو لپاره ګټورې دي. دا دوه حقیقتونه خامخا دسیمې دهېوادونو لپاره دشریکو ګټو یو داسې بنسټ رامنځته کولی شي چې ټول پرې راټول شي.

دویم ــــ او دا ټکی ډېر پېچلی دی ــــ ددې ډېره اړتیاده چې په ډېرې رښتیاینۍ سره د ګاونډیوهېوادونو بېلابېلې ګټې او اندېښنې وپېژنو، چې بیاورته دځواب ویلو لپاره هڅې وکړل شي. پاکستان دلته مهم دی. دا هغه د امنیت او خبرو اترو ډېرې کلیانې لري. په روښانه ډول داپکارده چې په افغانستان کې دکوم حل دلټولو لپاره پاکستان ملګری کړل شي.

پاکستان د ۱۷۰میلیونه وګړو هېواد دی. دا یو اتومي ځواک دی. پاکستان به یوازې دخپلو ملي ګټو په پام کې نیولو سره عمل کوي. او دا طبعي ده. له افغانستان سره اړیکي د دوی دملي امنیت ته ارزښتمني دي. پاکستان په خپله درشل کې د یو غیرپښتون افغان ملي پوځ له جوړېدو نه وېره لري، او همدارنګه له هندوستان سره د افغانستان له اړیکو هم ویرېږي.

پاکستان له یوه کول (نسل) نه راپه دېخوا له امریکاسره ډېرې ګرانې اړیکې لري. له پاکستان سره د اوباما د ادارې د امنیتي ، اقتصادي، او سیاسي اړیکو د تعقیب پرېکړه ارزښتمنه ده. دا پالیسي یوه مهمه موکه پیداکوي چې دپاکستان ــــ او زمونږ ــــ اندېښنو ته ځواب وویل شي.

دکیري لوګر ماده چې په پنځه کلونوکې پاکستان ته څه باندې اووه بلیونه ډالره مرسته ورکوي چې په ناپوځي ځایونو کې یې ولګوي او په مقابل کې به یې پاکستان په خپله خاوره کې د اورپکو پرضد اغېزمن ګامونه اخلي ــــ په دې هکله یوه ارزښتمنه معامله ده. خوپرمختګ په اسانه نشي ترلاسه کېدای، زیات جدي، زیات مساوي امریکاــ پاکستان امنیتي ستراتیژیکي ادراک هم ورته بنسټیز شی دی. دخپلو لویدیځو پولو دامنیت په اړه دپاکستان له وېرو سره ددې هم اړتیاده چې په افغانستان کې دپاکسټان خپله بوختیا ته هم رسېدنه وشي.

هرهېواد دې دا ومني چې په افغانستان کې به دپاکستان له په اعتماد کې له اخیستو پرته به هیڅ سیاسي جوړښت نه رامنځته کېږي.او همدارنګه دلته به هیڅ سیاسي جوړښت پرته له هندوستان، روسیې، ترکیې او د چین له بوختیاپرته نه راځي. چین د افغانستان ترټولو لوی بهرنی سرمایه لګوونکی دی. هند د افغانستان دبیارغاونې لپاره د ۱،۲ ملیارده ډالرو د مرستې ژمنه کړې ده. دا یو لوی رول لري چې وه یې لوبوي. همدارنګه ایرانی رژیم ــــ چې اتومي پالیسیو یې ملګري ملتونه مسخره کړي او دګاونډیانو دناکراره کولو دهڅو مخینه لري ــــ باید خامخا پوه شي چې ښه لاره چې خپله سرمایه وساتي ــ او خپل شیعه عقیدې لپاره کاروکړي نوښه لاره په افغانستان کې سوله راتلل نه ، نه سوله له منځه وړل. دلندن په کنفرنس کې برخه نه اخیستل دایراني دولت لنډپاري وه.

دریم ــــ او دا هغه یو دی چې بهرنی سیاسي جوړښت په روښانه ډول له داخلي سیاسي جوړښت سره تړي ــــ دلته ددې اړتیا شته چې په را روان وخت کې د افغانستان د بهرنۍ پالیسۍ د لوریو په ټاکنه کې بایدښکاره شفافیت او روښانتیا موجوده وي. دا په افغانانو پورې ده چې داکار څنګه ترسره کوي، خو ددوی بوختیاوې د اعتماد په پیداکولو او د غلط فهمیو په له منځه وړلو کې لوی لاس لرلی شي. له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره تړلی دا چې، باید په افغانستان کې د نړیوالوځواکونود شتون، فعالیت او د راروانو وختونو دپلان، په هکله هم یوه موافقه او روښانتیاموجوده وي.

څلورم، اقتصادیات باید د ښو سیمه ییزو اړیکو لپاره بنسټ وي. افغانستان که له منځنۍ اسیا، جنوبي اسیا او خلیج ترمنځ په ځمکني پل واوړي ددې ټولو ګاونډیانو ته ګټه رسولی شي لکه د وریښمو لار چې د ډیرو پیړیو لپاره لویه تجارتي لار وه. دلته له سوداګرۍ او ټرانسپورټ نه پرته هم د اوبو او بریښنا د وېش له پلوه، او داقتصادي زېرمو د کارولو له پلوه هم نوري ګډې ګټې شته.چې هم افغانستان ته ګټه رسولی شي هم ګاونډیو هېوادونو ته .

پنځم دیوه فورم پوښتنه ده چې داکار پکې نور مخکې بوتلل شي داپروسه باید خامخا دسیمې د هېوادونو لخوا پرمخ لاړه شي.یواځې دا دولتونه پرېکړه کولی شي چې په سیمه کې د اړتیاوړ جدي او اوږدمهالي شراکت ته بنسټ د جنوبي اسیا دسیمه ییزې همکارۍ دسازمان او که د اسلامي کنفرنس په مرسته جوړېدای شي. افغانان دې له ملګروملتونوسره دخپلې ملګرتیا مشري هم په غاړه واخلې په دې وخت کې یې داچاره کېدای د ثبات ، امنیت او همکارۍ بهاره د جنوبي اسیا یو کانفرنس ته رهنمایي کړي. ددې پورته ټولو ټکیو په نظر کې نیولو سره افغانانو ته ښایي چې په خپل هېواد کې د مستقبل دسیاسي پروسې په هکله خپله پرېکړه وکړي. دګاونډیانو یواځې قانوني ګټې ارزښتمني دي، نه دوی افغان دولت او افغانان لاندې کولی شي او نه یې مونږ دې پرېږدو.هغه ورځې تللي چې ځواکمنو هېوادونو به خپل کمزوري ګاونډیان تر ښکېلاک لاندې راوستل.

پایله

که مونږ په بریالیتوب سره دا دا ستراتیژي چې ما وړاندې کړه پلې کړو، نو د افغانستان لپاره یوه ښه راتلونکې کوم خیالي هدف نه دی. له دوو تر پنځوو کلونو دا ریالیستیکه ده دا دیوداسې هېواد په بنه ووینوچې په همدې ارزښتمنه کرښه به پروت، غریب به وي خو باثباته او سوله ییز به هم وي، یوه پراخه دیموکراسي او دهرې کچې سیاسي جوړښت به لري، دمالي عوایدو ډېرښت به لري کلیوال اوسېدونکي به یې بریښنالري، په سیمه ییزو بازاروڅکي به یې نور دوکانونه خلاص شي، ډېر ماشومان ـــــ په ځانګړي ډول ډېرې جینکۍ ـــــ به ښوونځي ته ځي.

ډېر مخالفین به ـــــ لکه څنګه چې ویل کېږي په ورځ لس ډالره اخیستونکي طالبان ـــــ به په خپلو کلیوکې ځای پرځای شي، او لږ ترلږه یوڅه مشران به یې په قانوني سیاسي پروسه کې رایوځای شي.

ټولنې به په زیاتېدونکي ډول ددې وړ وي چې د ځان ساتنې لپاره په افغان امنیتي ځواکونو باور وکړي نړیوال پوځونه به له لومړۍ لیکې نه په شاکېږي ـــــ خو دوی به بیاهم یو رول لري، او کله کله یو خطرناک رول، دخپلو افغانو سیالوځواکونو د روزنې او لارښوونې رول. ګاونډیان به په ګډه کارکوي، دستونزو مخنیوی به کوي، تېل به پرې نه شیندي او ددې ټولو له پاسه داچې القایده به له دې ځایه بهر شوې وي.

زه افغانستان ته د بریتانیا د بهرنیوچارو د سکرتري په توکه شپږ ځله تللی یم په لومړي ځل د ۲۰۰۷په جولای کې ماد افغانستان د وروستي باچا محمدظاهرشاه په جنازه کې ګډون وکړ. هغه غم چې ما مشاهده کړځرګند او جوړ و. خو همداسې یو ملي یووالی هم و. نژادي وفاداریانې او تېرې دښمنۍ یوې خواته پرېښودل شوې وې چې دملت دبابا په مړینه ویر وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه پاچا ته د وفادارو ترمنځ دغه يووالی نن نه‌ښکاري. ددې ځای دخلکو ترمنځ دې ژورې غوښتنې
نيولی چې هغسې ژوند وکړي چې دوی يې سم ګڼي.پوځي عمليات د برياليتوب لپاره ارزښتمن دي،
همدارنګه په ولسي اقتصاد باندې سرمايه کاري هم ؛ خواوس په افغانستان کې ديو نوي سياسي جوړښت
د راتلو لپاره دومره زور او سبک پکار دی، په څومره زور چې مونږ پوځي او ولسي هڅې کوو. دا په
افغانستان کې دجګړې دپای ته رسولو لار ده.

April 1, 2010

http://www.tolafghan.com/posts/17725

# How to End the War in Afghanistan

**by David Miliband**

Neither the UK nor the US started the war in Afghanistan. In the 1990s that country's Taliban government provided a safe haven and support for al-Qaeda. In return Osama bin Laden provided the Taliban with money and fighters. Afghanistan became the incubator for the September 11 attacks. The international intervention in response to those attacks had widespread support around the world. But we never meant for our militaries to be there forever. Eight years later, with al-Qaeda pushed into Pakistan, it is not enough to explain to people why the war started. We need to set out how it will be ended—how to preserve what has been achieved and protect South Asia from a contagion that would affect us all.

The route to progress depends on recognizing the centrality of politics to issues of war and peace. Violence of the most murderous, indiscriminate, and terrible kind started this Afghan war; politics will bring it to an end. A political settlement for Afghanistan must have two dimensions. First, a new and more inclusive internal political arrangement in which enough Afghan citizens have a stake, and the central government has enough power and legitimacy to protect the country from threats within and without. And second, on which the first depends, a new external settlement that commits Afghanistan's neighbors to respect its sovereign integrity and that carries enough force and support to ensure that they abide by that commitment.

Britain fought three wars in Afghanistan between 1839 and 1919. Each time it was defending its power base—and economic stake—in British India. And each time it suffered military reverses as it sought to establish order. Yet on every occasion, once that lesson had been learned the hard and bloody way, Britain's imperial strategists sought—and secured—a saner and more sustainable objective: a self-governing, self-policing, but heavily subsidized Afghanistan, whose tribes balanced each other and that posed no threat to the safety of British India.

Soviet strategists reached strikingly similar conclusions. When the Soviet forces in Afghanistan withdrew in 1989, they left behind a government, led by the Afghan Communist Mohammad Najibullah, that survived for three years. It did so—in the words of advice from the Kremlin—by "forgetting communism, abandoning socialism, embracing Islam, and working with the tribes." As with every other regime in modern Afghan history, the Najibullah government could not have

(c) ketabton.com: The Digital Library

existed without external subsidy. And so it fell when Boris Yeltsin's newly independent Russia cut all aid to Kabul.

Britain's experience in the nineteenth century, and the Soviet Union's in the twentieth, showed that the best way, perhaps the only way, to stabilize Afghanistan in the long term is to empower the Afghans themselves in charge so that they can secure and govern their own villages and valleys. To achieve this, the Afghans need full political and military support, and generous economic subsidy, from outside. But the Afghan people neither need nor welcome our combat troops on their soil any longer than is necessary to guarantee security and set them on a course to regulating their own affairs.

A recent study of Britain's bloody withdrawal from Kabul in 1842 concluded that the first cause of that disaster was the reluctance of junior officers to tell their superiors the truth about the dire situation the British forces found themselves in. I know from my own discussions with diplomats and commanders in the field that such "happy talk" is no longer the order of the day. Getting Afghanistan right means getting down to ground truth. These are the facts as I see them:

